## چاپېریال او د هغه د ککړتیا عوامل

چاپېریال دروغتیا ټول فزیکی، کیمیاوی، اوبیولوژیکي فکتورونه چې د یو وګړي یا شخص څخه بهر دي اوټول هغه اړونده فکتورونه چی کړه وړه اغیزمنوي، څېرې اوپه نښه کوي. د چاپېریال د هغو فکتورونو ارزونه اوکنټرول په بر کې نیسي چې په باالقوه ډول روغتیا اغیزمنوي. اوموخه یې د ناروغی مخنیوی او د روغتیا لپاره د ملاتړکوونکي چاپیریالونو رامنځته کول دي. چې اوس وخت کې د افغانستان د چاپېریال روغتیا د یوشمیر بنسټیزو مسالو سره مخامخ ده لکه د څښلو ناپاکي اوبه،ناکافی حفظ الصحوی اسانتیاوې، د جامدو موادو اوپاتیشونو فضله موادو ناسم تنظیم، کیمیاوي ککړتیا اوملوث کیدنه، خرابه هوا اود سمبالونې، ساتنی (ستورکولو) اولیږد په ټولو پړاونو کې د خوړو غیر صحي اداره اوناوړه صحی دودونه دي .یوه مطالعه چې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کی ترسره شوې په نښه کوي چې پنڅه کلونو څخه ښکته ماشومانو کی نس ناستې د۳۰،۵ فیصده مړینو لامل ده او ۴۰ فیصده په هغه ماشومانو کی چې ۹-۵ کلونو پورې عمر لري چې دغه ناخوالي په یو یا بل ډول د چاپیریال د بد حالت سره تړاو لری. په هیواد کی یوه سروې چې په ۲۰۰۲ زیږدیز کال کې په لاره واچول شوه، دخفګان نښی په ٪۵۹،۱ نارینه او په ٪۷۳،۱ ښځو کی، داندیښني نښې په ٪۵۹ نارینه او ٪۸۳،۱ په ښځو کې له پیښط وروسته رواني اختلال نښي په ٪۲۳،۱ نارینه او ٪۴۸،۳ ښځوکی موندل شوې دي یوه بله سروی چې په ۲۰۰۴ زیږدیز کال کې په کډوالو ښځوکی ترسره شوه په ګوته کوي چې ۷۸ فیصده یی په خپګان اخته دی. که دې سروې ته نظر وکړو نوجوته به شي چې په افغانستان کې د امریکا د راتګ نه وروسته د چاپېریال ککړتیا زیاته شوې او د سبب یې هم د دوامدار جنګ شتون او د حکومت نه توجه ده د چاپیریال پاکوالي ته.

**چاپیرال ساتنه دالهي احکامو په رڼا کې:**

اسلام د چاپېریال او دهغی د ساتنې د بنسټیزو توکو په ملاتړ کې ځانګړي تاکید او سپارښتني لري اوهغه هم دانسان د خیر اونیکمرغۍ او د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو د اړتیاوو د بشپړولو او تامین لپاره .الله (ج) په لومړی سر کې یې پیدایښت (خلقت ) اوهستي سپیڅلي اوله ټولو ککړتیاوو څخه پاک پیدا کړ او انسان ته یی امانت وروسپاره ترڅو خپله هم ترې وخوری او وڅښي اوهم راتلونکو نسلونو لپاره سالمه روغتیا پرېږدي او له بې ځایه کاروني اوزوروړاکۍ څخه ډډه وکړی او د راتلونکي نسل حقونه تلف نکړي .په اسلام کې د طبیعی زیرموغلطه کارونه تیری ګڼل شوی اوخورا ډیره غندنه یې شوې. الله (ج) دطبیعي زیرمو څخه د کاروني په برخه کی فرمایي هرڅیز مو پراندازه پیدا کړي . نوهرڅیز مقدار او برید (حد) لري اولازمه ده چې په سمه اوسالمه توګه ترې ګټه پورته شي اوله منځه ولاړ نشي، که چیرې سمه اوښه استفاده ترې ونه شوه نودلته ده چې د طبعیت نظم او انسجام به ګډوډ شي او بشر دمخ پرډیریدوونکو مصیبتونو اوستونزو سره مخامخ شي ځکه بیځایه اوبې کچې کارونه طبیعي زیرمې له منځه وړي اوکیدای شي چې راتلونکي نسلونو د حقونو د تلف کیدو لامل شي. ځکه نوطبیعي زیرمې د بشر د نسل لپاره الهي امانت دي چې منځ ته راغلي اودا یوازی د اوسني نسل حق ندی بلکه راتلونکي نسلونه هم په هغه کې برخه اوحق لري اودا یو امانت دی اونه د پخوانیو خلکو میراث اولازمه ده چې امانت پرته له دې چې کوم زیان ووینی په سمه او روغه بڼه راتلونکو نسلونو ته ولیږدو.

قران کریم د بقرې سوره په ۲۷ ایت کی فرمایي

ژباړه:هغه کسان چې په ځمکه کې فساد کوي د زیانکونکوڅخه دي.

اوپه بل ځای کې فرمایی

اسراف مه کوی چې الله (ج) اسراف کوونکي نه خوښوي

اسلام پاکوالی اونظافت ته خورا ډېر ارزښت ورکوي اوهغه د ایمان د نښو څخه ګڼي.

هغه لاملونه چې د چاپیریال د ککړتیا سبب کیږي:

دچاپېریال هرډول بدلولونه چې د ناوړواغیزو لرونکي وی د ککړتیا په نوم یادیږي د هواککړتیا په ټوله نړۍ کې یوه ستونزه ده چې اوس وخت افغانستان کې نوموړې ستونزه په یوه کړکیچ باندې تبدیل شوې ده چې نوموړې ستونزه په لویو ښارونوکې ډیره په نظر باندې رآځي چې انسانان، ځاروي اوحتی زرغونې سیمې یې د خطر سره مخامخ کړې دي .د هوا ککړتیا په یوه سیمه کې د

نفوس دزياتيدو سره زياتيږي او په هغه سيموکي چې هلته صنعتي فابريکې شتون لري نو په هغه سيمو کې د هواککړتيا زياته وي، چې سبب دانسانانو د روغتيا د خرابوالي کيږی او مختليفي تنفسي ناروغی دهواد ککړتيا له امله منځته راځي .د اتموسفير په ترکيب کې د زهري ګازونو ډېريدل د ځمکي د کرې د تودوخي د لوړيدو لامل کيږي. د لمر وړانګې ډيره برخه د ځمکي په واسطه باندې جذبيږي مګر يوه لږه کچه يې بيرته فضا ته منعکسيږي. ځمکني ټرانسپورت د هوا د ککړتيا د سترو سرچينو له ډلي څخه په افغانستان او په ځانګړې ډول په کابل کې دی چې د هوا د کيفيت د خرابوالي اود اقليم د بدلون لامل ګرځيدلی اود هغه د غږ څخه هم خلک په تکليف دي د ګاډو لوګی د زهري او سرطان زيږونکي موادو د سترو سرچينو څخه دي . ګاډي په هر کال کی په ميليونونه پونډه زهري اوسرطان زيږونکي مرکبونه لکه نايتروجن اکسايډونه، کاربن مونواکسايد او هايدروکاربونونه لکه بينزين اوفارم الديهايد توليدوي. چې دا ټول مرکبونه د خلکو، څارويو او بوټو په روغتيا باندې ناوړه اغيزه لري. چې په اوس وخت کې مونږ وينو چې په کابل کی تقريبا ۵ ميليونه خلک ژوند کوي او کوم مساحت د کابل چې دی د دومره نفوس د ځای کولو ظرفيت نه لري او د بله طرفه ګاډي که وګورو د حد نه اضافه شوي دي او اوس هم ورځ په ورځ باندې اضافه کيږي او زياته برخه د هغه موټرونو ده چې هغه خراب شوي وي او په زياته اندازه باندې مضرګازونه توليدوي اوس ځنګه کولای شو چې د خپل هيواد خا صتآ د کابل هوا کنترول تر ځو وکولای شو چې د تنفسي ناروغيو څخه مو مخنيوی کړی وي نو که چيرې لاندې طريقې په نظر کې ونيسو نو مونږ کولای شو چې د خپل هيواد د هوا کيفيت يو څه کنترول کړو.

- هغه ګاډي چې په ډيره اندازه باندې لوګی ،دماشين بخار او ناسوزيدلی تيل فضا ته بهر وباسي بايد ودرول شي.
- دعامه ټرانسپورت يوفعال سيستم دې رامنځته شي ترڅو خلک د شخصی نقليه وسايطو پر ځای د هغو څخه استفاده وکړي.
- ۲۴ ساعته برېښنا دې د کابل ټولوښاريانو ته تامين شي اود جنراټورونو کارونه دې بند او منع شي اوس چې ګورو ټولې نادولتي موسسې، سفاروتونه، وزاررتونه اوخصوصي شرکتونه دغټو جنراټورونو څخه استفاده کوي چې د هوا د ککړتيا ستر لامل دی او ټول صنعتي واحدونه دې صنعتي پارکونو ته وليږدول شي.
- اوبل ټول ښاريان دې د نيالګيو کينولو ته متوجه شي او هر څوک بايد خپله مربوطه ساحه کې زرغوني ونې کينوي چې زرغوني ونې د هوا په پاکوالي کې ښه رول لري او ښار هر وګړی بايد د مسووليت احساس وکړي او دوی هر يو بايد د ښار په پاکوالي کې رول ولري.

**دهوا د ککړتيا سرچيني:**

1خوځنده سرچيني (لکه ټرانسپورتي وسايل

۲ ثابتې سرچيني (فابريکی

۳ ځايی سرچيني(په يوه ټاکلي ځای کې قرار لري اود هغې ککړتيا ډيره ځرګنده نه ده مګر د نورو سيمو سره يوځای د ککړتيا لامل کيږی

- سيمه ايزې سرچيني (چې په يو ځای کې د ککړتيا سبب کيږي
- دککړتيا بنسټيزې سرچيني (چې ټول مضر ګازونه چې په يو او بل شکل باندې توليديږي او هواته خپريږي

نوموړي عوامل دي چې د هوا د ککړتيا سبب کيږي چې نوموړي عوامل په هوا کی چې کوم معياري اندازه د نايتروجن، اکسيجن، سرب،اوزون او کاربن مونواکسايډ اندازې دي چې که چيرې نوموړې اندازې زياتي شي نو د هوا د ککړتيا سبب کيږي.

با احترام